# پاڼه او نړۍ

لیکواله: زرمینه روهي وردګ



Ketabton.com

انستان اقتصاد وزارت سره په
په صفت د پوهاوي، تعامل او
وضوعاتو په برخه کې فعالیت
کړې له لارې د اقلیمي بدلون
ستان د ټولنې د ضروریاتو پر

ی، بلکې اونۍ اقلیمي بدلون
ـه اړتیا لري؛ تر څو د موجوده

سي د اونۍ د فعالیت د ساحې
د شخړې پر ځای د همکارۍ

ت داسې اقدامات غوره کړي
ي. د یادونې وړ ده چې په دې
رنه وشي.
و چې په افغانستان او سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پانه او نړۍ

لیکواله:
زرمینه روهي وردګ

۱۴۰۲ هـ.ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب نوم:** پاڼه او نړۍ

**لیکواله:** زرمینه روهي وردگ

**کتونکی:** زلمی هېوادمل

**اېډیټ:** اجمل روهي

**انځورونه:** لېمه او میوند حکیمزی (د مصنوعي زیرکتیا په مرسته)

له ښاغلي انجینر ابوبکر همت نه ځانگړي مننه چې کتاب یې د مسلکي اړخ نه اېډیټ کړی.

**خپرندوی:** د اونۍ مؤسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپروندي يادښت

د اونۍ موسسې موخه د اقليمي بدلون حياتي موضوع ته ځانګړې پاملرنه او په افغاني ټولنه کې يې د يو محوري بحث په توګه مطرح کول دي.

اونۍ لومړنۍ افغاني موسسه ده، چې د اقليمي بدلون په برخه کې يې، د خبرنې، عدالت غوښتنې، اقليمي ډيپلوماسۍ او اقليم پوهنې له لارې ځانګړې فعاليتونه پيل کړي دي. اونۍ غواړي د اقليمي بدلون ناوړه اغېز په هکله په افغانستان او سيمه کې د پوهاوي کچه لوړه کړي، تر څو شته ننګونو ته اغيزمنې او هر اړخيزې حللارې وموندل شي.

په دې برخه کې عامه پوهاوی، چې د دقيقو خبرنو او معلوماتو پر بنسټ ولاړ وي، کليدي رول لوبولی شي. اړينه ده چې د نن ماشومانو ته چې په راتلونکې کې د دې سيارې مسئوليت ور په برخه کيږي په کافي اندازه پوهاوی او معلومات ورسول شي تر څو په راتلونکي کې د ځمکې له سيارې سره عادلانه او ښه چلند وکړي او د هر اړخيزې حللارې په موندنه کې په فعاله توګه برخه واخلي.

له همدې کبله اونۍ غواړي چې د ماشومانو لپاره د اقليمي بدلون او چاپېريال ساتنې په اړه د افغانستان په رسمي ژبو د ليکل شوو کتابونو د چاپ ملاتړ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله ده «پاڼه او نړۍ» د دې اوږد مهاله بهیر پیل وي، او زموږ له ماشومانو سره مرسته وکړي چې د الله (ج) له خوا د راډالې شویو د طبیعي نعمتونو په قدر او ارزښت پوه او په ښه توګه تري ساتنه وکړي.

لیکوالې زرمینې روهي وردک په دې کتاب کې په عالي ډول سره خپل استعداد اثبات ته رسولی او افغان ماشومانو ته یې ښایسته اثر پنځولی دی. موږ له آغلې لیکوالې د زړه له کومې مننه کوو او له فرصت نه په استفادې سره نور افغان لیکوالانو، په ځانګړې توګه مېرمنو ته، بلنه ورکوو چې د دې ډول کتابونو د لیکلو لړۍ وغځوي. ,,اونۍ،، به یې تل تر ځنګ ولاړه او ملاتړې وي.

د یو متحد او سوکاله افغانستان په هیله

درنښت

د ,,اونۍ،، د موسسې بنسټ اېښودونکی او د بورډ مشر

**دیپلوم انجینیر الیاس وردک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڼه او نړۍ

ستاسو په لاسو کې دا کتاب چې محترمې لیکوالې زرمینې – پاڼه او نړۍ نومولی – د کوچنیانو لپاره لیکل شوی کتاب دی او زما په پوهه په خپله نوع کې ډیر ګټه ور او کار آمد اثر ګڼل کیدای شي.

دا کتاب د کوچنیانو لپاره، د کوچنیو حکایاتو په بڼه په داسې ابتکاري شیوه تهیه شوی چې په هره برخه کې د راوي له خولې د انساني ژوند د چاپیریال پر یوه ضروري موضوع په ډېره ساده او د کوچنیانو لپاره د درک او پوهې وړ ژبه په ډیر خونده ور سبک لیکل شوی دی.

د کوچنیانو لپاره د لیکلیو شویو نورو آثارو په نسبت د (پاڼه او نړۍ) امتیاز پدې کې دی چې د دې کتاب لوست د کوچنیانو د ادبي ذوق له خړوبولو سربیره، کوچنیان له ډیرو مفیدو او د انساني ژوند له چاپیریال سره د تړلیو او موثرو مسایلو له ساینسي بنیادونو هم خبروي.

د دې کتاب په لیکنه کې د محترمې لیکوالې هنر دا دی چې د انساني چاپیریال د خرابیدو او هم یې د ساتلو او سلامتیا پر عواملو د انسان د منفي او مثبت نقش ډیر حیاتي موضوعات، د کوچنیانو له پوهې سره سم، په روانه او په کورنې محیط کې پر مستعملو اصطلاحاتو پسوللې، پسته او خوږه ژبه لیکلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکواله د کتاب د عباراتو د بشپړتابه لپاره د الفاظو په انتخاب کې خاص مهارت لري. د کتاب د حکایاتو په بیان کې یې د کوچنیانو د برداشت سویې ته په پاملرنه موزون، مناسب او رسا کلمات او الفاظ انتخاب کړي دي.

(پاڼه او نړی) هم په موضوعي لحاظ او هم د بیان د روان سبک له پلوه په پښتو کې د کوچنیانو لپاره د لیکل شویو کتابونو په لړۍ کې ځینی ابتکاري خواوې لري. هیله دا ده چې دا روش وسعت پیدا کا او زموږ د دې ساحې لیکوال، لکه: (پاڼه او نړی) د ژوند ځینې ضروري مسایل په خپلو آثارو کې د کوچنیانو د فهم له سویې سره برابر را ونغاړي، څو زموږ کوچنیان له کوچنیوالی د انسانی ژوند له ځینو حیاتي ضرورتونو سره آشنا شي.

د دې ګټه ور اثر محترمې لیکوالې زرمینې ته د کوچنیانو لپاره د دې ابتکاري خونده ور کتاب د لیکلو مبارکي وایم او د لا بریالیتوب هیله یې لرم.

په درناوي

**سرمحقق زلمی هیوادمل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڼه او نړۍ

پاڼه په ښویدلیو پښو له ټولګي نه راووتله. د کور خوا تللې لارې ته یې وکتل. یوه ژوره سا یې واخیسته، ورو ورو روانه شوه. په ځنګله کې نرۍ لار تېره شوې وه او تر څنګ یې د یخې اوبو سړه ویاله هم بهېده. پاڼې هېڅ زړه نه کېده چې تر کوره په دا اوږده لار باندې لاړه شي، خو بله چاره نه وه، مجبوره وه چې د ځنګل تر منځ غره ته تللې لارې ته ختلې وای.

کور ته په رسېدو سره یې د ښوونځي بکس په دروازه کې وغورځاوه، دروازه سره یې پښې په خاورو کې اوږدې وغځولې او کېناسته.

مور یې د کوټې نه ور پام شو، ورغږ یې کړ: وه پاڼې خواره مه شې دا څه کوې، ټول کالي دې په خاورو ککړ کړل. زر پاڅه!

هله، مخ لاسونه دې ومینځه، ډوډۍ تیاره ده.

پاڼه لا هم همالته ناسته وه. بابا یې له باندې نه د کور انګړ ته را دننه شو. پاڼه یې نه وه لېدلې، پښه یې د پاڼې په پښو کې بنده شوه او یو ټوپ یې کړ، ځان یې بیرته د ونې په سته تم کړ. پاڼې د بابا د ټوپ وهلو په لېدو په خندا شوه او له خندا پر ځمکه ځملاسته، نس یې په دواړو لاسونو نیولی و او په زوره زوره یې خندل. بابا یې هم په خندا شو. پاڼې ته یې وکتل ویې ویل: داسې ښکاري چې زما نانځکه بیا لارو ستړې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پاڼې ببرته ځانته پام شو چې ولې دلته ناسته وه.

ـ هو بابا جانه نن سخته ستړې شوم. ته وګوره دا ګرمه هوا او دا اوږده لار. دا ټول د ځنګله ګناه ده. که دا ځنګل دلته نه وای یوه لنډه لار به زموږ تر کوره راغلې وه. یو سم سرک به جوړ شوی و، موټر به راتللی شو او زه به دومره نه ستړې کېدم. بابا جانه، نه شو کولی چې دا ځنګل ټول ووهو او غټ سرک جوړ کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا يې له يوې شېبې سوچ وروسته وويل: راځه لورکۍ مې، له دوېدې نه وروسته زه او ته به چکر ته لاړ شو او بيا به د ځنګل په هکله هم خبرې وکړو.

تر دوېدې وروسته پاڼې ځان چکر ته تيار کړ. بابا يې دروازه کې ورته انتظار و. دواړه د ځنګله خوا ته روان شول.

بابا يې وويل: نن به د ځنګله منځ ته لاړ شو، وګورو چې هلته څه خبرې دي.

پاڼې سر وښوروه ويې ويل: ښه ده باباجانه، زه هم غواړم پوه شم چې هلته څه دي او ځنګل ولې بايد ونه وهل شي؟!

دواړه يوه ښه شېبه وړاندې لاړل. يو ځای کې ونې ډېرې ګڼې شوې. دوی د ځنګله منځ کې وو. بابا يې پاڼې ته وويل: يو ځل سترګې پټې کړه او غوږ شه چې څه اورې، څه حس کوې؟

پاڼې سترګې پټې کړې، غوږ يې ونيوه. د باد سړه هوا يې په مخ حس کوله. د مرغۍ سندره او د پاڼو شرنګا يې اورېده. سترګې يې خلاصې کړې. ځان يې ارام حس کړ. بابا ته يې مخ کړ، ويې ويل: بابا جانه دا څومره ښه او ارامه احساس دی.

بابا يې موسکۍ شو: هو زما نانځکې، دا د ځنګله جادو ده. که ځنګل نه وای، دا سړه هوا، د ژويو کورونه او د مرغانو ځاله به هم نه وای. دا بارانونه چې زموږ کلي کې تر نورو ځايونو ډېر دي او پاکه هوا لرو دا يو به هم نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼه حیرانه شوه: هغه ولې او څنګه؟

بابا: اوس به زه تا ته ووایم چې ولې او څنګه.

ته خو پوهېږې چې کله موږ سا اخلو اکسیجن تنفس کوو او چې سا باسو نو کاربن ډای اکساید تولیدوو. موږ د تنفس لپاره اکسیجن ته اړتیا لرو. ونې بیا زموږ برعکس کاربن ډای اکساید تنفس کوي او اکسیجن تولیدوي. دوی هم یوه اندازه اکسیجن د شپې له خوا تنفس کوي او کاربن ډای اکساید خارجوي، خو تر هغه ډېر بیا بېرته د ورځې له خوا اکسیجن تولیدوي. که چېرې ونې د کاربن ډای اکساید نه هوا پاکه نه کړي، دا ګاز په اسانه بېرته نه فلتر کیږي، په دې ډول به هوا نوره هم ګرمه شي، اقلیم به بدلون وکړي، وچکالي او نورې ناوړه پایلې به ولري.

پاڼه: اقلیم څه دی بابا جانه، او څنګه ناوړه پایلې به ولري؟

بابا: که خوښه دې وي په هغه باندې به بیا بله ورځ خبرې وکړو، نن به د ځنګله په هکله وغږیږو.

پاڼه: باباجانه بیخي مې خوښه ده، ښه نو ځنګل نور څه ښه والی لري؟

بابا: هو، د ځمکې تقریباً ۳۰ فیصده (درییمه برخه) ځنګلونو پوښلې، یوازې پنځه سالمې غټې ونې کولی شي ډېرو خلکو ته اکسیجن ورسوي. بل دا چې ځنګلونه هوا هم پاکوي، کټ مټ لکه برقي جارو له هوا نه ګرد ټولوي. یوه ونه په کال کې تقریباً پنځه کیلوګرامه ګرد جذبوي. کله چې باران ووریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځمکه کې اوبه جذب شي نو بیا د ونې ریښې خپله دنده پیلوي. د ونې ریښې د باران اوبه فلټر او پاکوي. په دا ویالو کې پاکې اوبه چې ګورې د ونې د ریښې له برکته دي. د ونې ریښې ځمکه د ښویدو نه هم ساتي. که چیرې توپان شي نو همدا ونې د باد یو څه مخه نیسي چې زموږ کورونه وران نه کړي.

د ځنګله بله مهمه دنده دا ده چې موږ ته باران راکوي. د ونې ریښې، اوبه د ښاخونو له لارې پاڼې ته رسوي او پاڼې دا اوبه بېرته تبخیروي. له دې تبخیر



(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي ګاز نه وربخښي جوړېږي او وريځې موږ ته بېرته باران راکوي. د باران يوه برخه اوبه، د ځمکې لاندې ذخيره کيږي، يوه برخه يې سيندونو ته بهيږي او يوه بله برخه يې بېرته تبخير کيږي. دې ته د اوبو دوران هم وايي.

بابا: رښتيا په ياد دي دي چې ناروغه وې مور دې يو ډول بوټی درکړ او زر بېرته روغه شوې؟

پاڼه: هو بابا جانه هغه تريخ بوټی مې خود په ياد دی. خدای مې دې بيا ترې ساتي، يو ځل بيا يې نشم خوړلی.

بابا يې موسکی شو: هو نانځکې آمين، خو هماغه بوټي ته بېرته ښه کړې او که دا ځنګل نه وای نو هغه بوټي به هم نه وو.

دا مور دې چې هره ورځ خوندوره ډوډۍ موږ ته پخوي، په ژمي کې ګرمه کوټه کې ناست وو، دا هم د ځنګله برکت دی. که د ځنګله لرګي نه وای موږ ته به ژوند سخت وای. الله (ج) موږ په هر ډول نعمتونو نازولي يوو. دا هر څه يې موږ ته ډالۍ کړي او موږ بايد په سمه توګه ترې ګټه واخلو.

پاڼه په سوچ کې شوه، پوښتنه يې وکړه: بابا جانه که هر څوک ځنګل ووهي او لرګي وسوځي نو ځنګل به خلاص شي بيا به څه کوو؟

بابا: افرين لورکۍ مې، اوس دې ښه خبره وکړه. ځکه خو بايد موږ ډېر پام وکړو چې خپل ځنګلونه وساتو. که موږ يوه ونه ووهو پر ځای يې بايد نوي نيالګي کېنوو تر څو ځای يې خالي پاتې نه شي او بېرته زرغون شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




پاڼې د بابا جان لاس ونیوه، پاس اسمان ته یې وکتل، څو سپینې وریځې ورو ورو روانې وې. د لوړې شنې ونې ښاخونو کې یوه ځاله ښکارېده. پاڼه لا فکرونو کې وه چې تر شا یې د بوټې تر منځ کوم څه وښورېدل. پاڼې له وېرې ټوپ کړ او له بابا جان یې غېږه راتاو کړه. بابا جان یې په خندا پاڼې ته وویل: وګوره هلته، یوه وړه سویه ده. پاڼې د سوی په لېدو مخ په دواړو لاسونو ونیوه او له خوشالۍ یې چیغه کړه: بابا جانه وګوره دا څومره ښایسته ده. اوه بابا جانه ځنګل څومره ښه دی. اوس نو ځنګل پر ما هم ګران شو. نور نه وایم چې ولې ځنګل شته. زه نور کوښښ کوم چې د ځنګل ساتنه وکړم تر څو دا ښایسته سوی او هغه پاس مرغۍ بې کوره نشي.

بابا یې وخندل پاڼه یې مچو کړه. دواړه ورو د کور پر خوا روان شول. پاڼې اوس په ځنګل کې له چکر نه خوند اخیسته او هر څه ته یې په بله سترګه کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# بل کلی

مازدیګر لمر په ډوبېدو و. پاڼه د کور په انګړ کې د پیشو سره په لوبو بوخته وه. مور یې ځو ځو ځلې دروازې ته وکتل. ځان سره یې کوم څه ویل. د انګړ دروازه ټک ټک شوه. پاڼې دروازې ته منډه کړه، پوهېده چې بابا جان یې دی. د سلام نه وروسته بابا یې پاڼې ته وویل: لور مې زه باید تا او مورسره دې یوه مشوره وکړم.

پاڼه حیرانه شوه، غلې د بابا تر شا روانه شوه. مور یې لکه پوهېده چې څه خبره شته، یو څه نارامه ښکارېده. درې واړه کېناستل.

بابا یې وویل: نن دفتر کې رییس هیله راڅخه وکړه چې یو بل کلي ته د دندې لپاره لاړ شم. هلته موږ ته ډېره اړتیا لري. ما غوښتل چې لومړی له تاسو سره مشوره وکړم چې ستاسې خنګه خوښه ده؟

مور یې وویل: نه پوهېږم، دلته مو اوس کور ځای په ځای کړی. ټول خپلوان او دوستان مو دلته دي. همدلته بلد شوي هم یوو. بابا یې پاڼې ته مخ کړ: ته څه وایې لورکۍ مې؟

پاڼې فکر وکړ ویې ویل: بابا جانه، هلته خلک تا ته ډېره اړتیا لري؟

بابا: هو نانځکې مې، هغه مرسته چې زه او زما ټیم مې کولی شو بل څوک یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي تر سره کولی. دوی ډېر کوښښ کړی چې هماغه کلي کې څوک پیدا کړي، خو له بدمرغه څوک پیدا نشول.

پاڼه: زه به هم دلته خپلو ملگرو، ښوونځي او ښوونکو پسې خپه شم، خو بیا به هلته خلک څه کوي چې ته مرسته ورسره و نه کړې، نو زه وایم چې لاړ به شوو.

مور یې پاڼه غېږ کې ونیوه ویې ویل: پخې! ته څومره مهربانه او هوښیاره یې. اوس نو مجبوره یم چې زه هم هو ووایم.

یوه اونۍ وروسته د دوی کډه بار شوه او نوي کلي خواته روان شول. په نوي کلي کې یې دوی ته یو ښایسته کور تیار کړی و، چې غټ انگړ او یو باغ یې هم درلودل. په باغ کې ډول ډول د میوې ونې وې. پاڼه د باغ په لېدو ډېره خوشاله شوه او ځنگل یې په یاد شو. ځان سره یې ژمنه وکړه چې د ونو به ښه ساتنه کوي. کور ښایسته سپین او کمرنگی اسمانرنگه رنگ شوی و. د پاڼې کوټه غټه او ښایسته وه. د کوټې کړکۍ باغ خواته پرانستل کېده.

پاڼې په خوښۍ سره کړکۍ پرانیسته، د یاسمنو گلانو ښاخونه پر کړکۍ راځوړند او راتاو وو. کوټه د گلانو له بوی نه معطره شوې وه. پاڼه د دې هر څه په ننداره کې وخت بلکل هېر کړی و.

پاڼه بله ورځ بابا سره نوي ښوونځي ته لاړه. ښوونځی هم ډېر ښایسته جوړ شوی و. دوه پوړیزه ودانۍ وه چې ټوله سپین او کمرنگه شین رنگ شوې وه. په منځ کې ښایسته او پاک میدان و چې یو څو لوبې هم په سرو او شنو

(c) ketabton.com: The Digital Library





رنګونو پرې رسم شوي وې. د دېوالونو شا او خوا شنې ونې ولاړې وې. څو زده کوونکي يې تر سيوري لاندې ناست وو او د کتابونو په لوستلو بوخت وو. په لومړۍ ورځ پاڼې څو ملګرې پيدا کړې، خو د دوی تر منځ يوه ډېره ښه پرې ولګېده.

د وړانګې کور د دوی د کور تر څنګ و. دواړه به يوځای ښوونځي ته تللې او راتللې. يوه ورځ هوا ډېره ګرمه شوې وه دواړه تندې پسې اخيستې وې. په لار

(c) ketabton.com: The Digital Library





کې سترګې یې پر یو څاه ولګېدې، هغه ته ورغلې او اوبه یې ترې وښښلې. دا چې دوی په لار کې د اوبو څاه پیدا کړې وه دواړه خوشاله وې.

ماښام د پاڼې په نس درد شو. زړه یې هم خرابېده. هر څو دقیقو کې وروسته به یو ځل تشناب ته په منډه وه. مور یې ډېره ورخطا وه نه پوهېده چې څنګه له پاڼې سره مرسته وکړي. کور کې یې د بوټیو دوا ورکړه، خو کومه ګټه یې و نه کړه. بابا یې لا نه و راغلی. مور یې څو څو ځلې زنګونه وکړل، خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب نه ورکاوه. همدې کې د کور دروازه خلاصه شوه او بابا يې کور ته د ننه شو. مور يې ورمنډه کړه ويې ويل: پاڼه سخته ناروغه ده، ولې دې ټيلیفون نه پورته کاوه؟

بابا يې په ورخطايي منډه کړه: د موبايل چارج مې خلاص و او برق هم نه و چې چارج يې کړم. زر دې ځان تيار کړه چې ډاکټر ته لاړ شوو.

درې واړه د معاينه خانې په لور روان شول.

ډاکټر پاڼه معاينه کړه. پوښتنه يې ترې وکړه چې څه يې خوړلي؟

پاڼې په تول ورځ کې خاص څه نه و خوړلي، د ځاه اوبه يې په ياد شوې، د اوبو کيسه يې ورته تېره کړه. ډاکټر پوه شو چې اوبه به ناپاکې وې نو ځکه پاڼه ناروغه شوې ده.

دوا يې ورکړه او ويې ويل: هېڅ اندېښنه مه کوه، ډېر زر به ان شاء الله رکه روغه شې. پام دې وي چې بيا له کوره بهر ناپاکې اوبه و نه څښې.

پاڼې وويل: ډاکټر کاکا، هغه خو د ځاه اوبه وې نو څنګه ناپاکې وې؟

بابا جان يې وويل: کله چې ښه شوې بيا به پر دې موضوع خبرې وکړو او زه به يې درته تشريح کړم چې ته ولې د ځاه اوبه ناروغه کړې.

څو ورځو کې پاڼه بېرته روغه شوه. وړانګه هم له هغې ورځې راهيسې ناروغه شوې وه او ښوونځي ته نه وه تللې. دواړه حيرانې وې چې ولې داسې په بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ناروغه شوي وي، دوی خو د ځان پاک ساتلو لپاره هم ډېر پام کولو.

پاڼې وویل: بابا مې نن ما سره چکر ته ځې او غواړې چې زموږ د ناورغۍ په اړه هم معلومات راکړې، که غواړې ته هم راسره لاړه شه.

وړانګه خوشاله شوه او زر یې سر وښوراوه. پاڼه او وړانګه دواړه د بابا جان سره د غره خوا ته رواني شوې. د غره په سر لا هم سپینه واوره ځلېده او لمن کې یې د شنو واښو تر منځ ځای ځای ګلان غوړېدلي وو. وړانګې یوه ګل ته لاس کړ چې ویې شکوي خو پاڼې پرې غږ کړ: مه شکوه! پرېږده چې رمه یا کوم بل ژوی یې وخوري او یا مچۍ ترې شات جوړ کړي. هسې یې مه خرابوه. وړانګې هم زر لاس تر شا کړ او د خپلې ملګرې خبره یې ومنله.

بابا یې وخندل ویې ویل: وګورئ، هلته پاس د غره پر سر واوره لېدلی شئ؟

دواړو سرونه وښورول: هو، ځومره ښایسته ښکاري. هلته به ځومره یخ وي.

بابا: پوهېږئ چې دا واوره موږ ته ځومره مهمه ده؟

پاڼه: نه ولې مهمه ده؟

بابا: دې واورې ته یخچال هم وايي.

پاڼې وخندل: یخچال خو موږ کور کې لرو.

بابا: هو دا هم د یخچال کار ورکوي. وګوره چې الله (ج) موږ ته ځومره ډېر نعمتونه راکړي. دا زموږ د اوبو ذخیره ده. که دا یخچالونه نه وای خلک به د

(c) ketabton.com: The Digital Library





وچکالی له بدمرغۍ سره مخ شوي وو، د څښاک اوبو کمښت سره به هم مخ وو. د ځمکې خړوبولو ته به اوبه نه وای. چې ځمکه خړوبه نشي بیا څه کیږي؟

وړانګې زر ځواب ورکړ: بیا نوغله نه شنه کیږي او موږ به خوړلو ته څه نه لرو، نه به هم څارویو ته سم واښه او نور څه خوراک ته پیدا شي.

بابا: افرین، همداسې ده، چې غله نه وي د خوراک لپاره به هم څه نلرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژمي کې کله چې واورهووریږي، یوه برخه یې اوبه شي او یوه بله برخه یې د غرونو په سر د ذخیرې غوندې همالته پاتې کیږي. څه فکر کوئ چې بیا به څه کیږي؟

دواړو یو بل ته وکتل اوږې یې پورته کړې او ویې ویل: مور نه پوهیږو.

بابا: ښه نو زه به درته ووایم چې بیا څه کیږي. کله چې هوا ګرمه شي ورو ورو دا واوره هم په ویلې کیدو پیل کوي. د غره له سره چې دا اوبه راښکته کیږي د ډبرو تر منځ فلتریږي او بیا سیندونو، ویالو او لښتیو ته وربهیږي. یوه برخه یې لکه څنګه چې مخکې مې هم د باران په اړه درته کیسه کړې د ځمکې لاندې ذخیره کیږي. یوه اندازه نور یې د غرونو په وادي کې پاتې کیږي. څه فکر کوئ چې د ځمکې پر سر به څو فیصده اوبه او څومره وچه وي؟

وړانګې وویل: زموږ شا او خوا خو یوازې یو سیند بهیږي نو زه وایم ۲۰ فیصده اوبه او ۸۰ فیصده به وچه وي.

بابا پاڼې ته مخ کړ: ته څه وایې لورکۍ؟

پاڼه: زه وایم چې ۵۰ او ۵۰ به وي، ځکه زموږ هېواد سمندر ته لار نلري، خو نور ځایونو کې خو بحرونه هم شته.

بابا: هو لورکۍ ستا اټکل ورنږدې دی. ۷۰ سلنه ځمکه اوبو پوښلې او یوازې ۳۰ سلنه یې وچه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼې په حیرانۍ سره وکتل: نو بیا ولې ټول وایي چې اوبه کمې دي؟

بابا: هغه ځکه چې له همدې ۷۰ سلنې اوبو نه یوازې ۳ سلنه اوبه خوږې اوبه دي چې موږ د څښاک او ورځني ژوند لپاره کار ترې اخلو. دا بې مالګې اوبه په سیندونو، ویالو کې بهیږي او یا هم د ځمکې لاندې زېرمه شوي وي. دا نور یې مالګینې اوبه دي چې په بحرونو کې دي او موږ ترې ګټه نشو اخیستلی .

پاڼې او وړانګې دواړو یو بل ته حیران وکتل.

بابا یې موسک شو ویې ویل: هو پوهېږم د چا باور نه راځي که څنګه؟

دواړو سرونه وښورول: هو همداسې ده.

بابا خبرو ته دوام ورکړ: د دې لپاره چې موږ څښاک لپاره اوبه تر لاسه کړو مجبور یوو چې څاه وکیندو. د څاه اوبه هماغه د ځمکې لاندې ذخیره شوي اوبه دي چې موږ یې راوباسو. په پرمختللي هېوادونو کې دوی خاص سیستمونه ورته جوړ کړي چې هلته اوبه ذخیره کوي او د ماشینونو په مرسته هر کور ته په نلونو کې اوبه رسوي. له بده مرغه زموږ هېواد لا هغه ځای ته ندی رسیدلی چې هر کور ته په نل کې اوبه ورسولی شي. نو موږ څه کوو؟

پاڼه: موږ څاه کیندو او د څاه نه خپلې اوبه راوباسو.

بابا: ډېر ښه، افرین. ښه نو اوس به تاسې دواړه وایی چې دا اوبه خو فلتر شوې وې نو ولې یې موږ ناروغه کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





دواړه لکه له خوبه چې راويښې شي او ورپام يې شي غږ وکړ: هو، رښتيا وايې، موږ يې ولې ناروغه کړو؟

هغه ځکه چې موږ د فاضله موادو لپاره بدررفت (کاناليزاسيون) نلرو او نه هم سم سيستم ورته جوړ شوی. د فاضله موادو اوبه هم د نورو اوبو په شان د ځمکې لاندې ځي نو کله چې د فاضله موادو د ټولېدو ځای سم خوندي ځای کې جوړ شوی نه وي، او هلته کومه څاه يا د اوبو زېرمه ورنږدې وي نو د پاکو اوبو سره چټلې اوبه ګډې شي. همدا ده چې ټولې پاکې اوبه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپاکې کړي. هر څوک چې هغه اوبه وکاروي ناروغه کیږي. بل دا چې ډېر کورونه د کانالیزاسیون سیستم نلري، چټلې اوبه د ځمکې پر سر تویوي، دا اوبه یا د ځمکې لاندې ذخیرو ته رسیږي او یا هم سیندونو سره یوځای کیږي. په پرمختللي هېوادونو کې فاضله مواد او چټلې اوبو ته يې داسې يو سیستم جوړ کړی چې ټول بیرته تصفیه کوي او نه پریږدي چې اوبه او هوا چټله کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د فاضله توکو د تصفیې په نتیجه کې د کاغذ او پلاستیک څخه بیا ځلې ګټه پورته کوي. د سبزیجاتو د فاضله توکو څخه کمپوست (د نباتاتو د ودې لپاره سره) تولیدوي. د چټلو اوبو د تصفیې په پایله کې له دې اوبو څخه د ونو او بوټو په اوبه کولو کې ګټه اخلي.

زموږ او موږ ته ورته وروسته پاتې هېوادونو کې ورځ په ورځ نفوس ډېرېږي، هر څومره چې خلک ډېرېږي، همدومره ډېرې اوبه هم په کار وي او تر څنګ یې د فاضله توکیو تولید هم ډېرېږي. چې نفوس ډېر شي بیا څه کیږي؟

دواړو یوځای وویل: بیا نو اوبه کمیږي او فاضله مواد ډېرېږي.

بابا: هو بلکل همداسې ده. ډېر نفوس د ډېر لګښت مانا هم ورکوي. په څاه او ذخیرو کې اوبه کمېږي. ډېر مصرف د هوا ککړتیا رامنځته کوي چې هغه سره هوا ګرمیږي. کله چې هوا ګرمه شي څه فکر کوئ څه به وشي؟

وړانګه: بیا به نوره هم ګرمي شي.

بابا وخندل: هو او د دې تر څنګ به هغه پاس د غره په سر یخچالونه زر اوبه شي. اوبه به ډېرې شي.

پاڼې له خوشالۍ نه غږ کړ: اوه څومره ښه، نور به بیا وچکالي نه وي.

بابا: نه بچو کاش داسې وای.

موږ له بده مرغه دومره ډېر بندونه نه لرو چې اوبه بندې او ذخیره کړو؛ نو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې سیلابونه به راشي. سیلابونه به ډېر کورونه وران کړي او په چټکۍ سره به زموږ له هېواد نه دا اوبه کوم بل خوا لاړې شي. کله چې دا ټولې اوبه موږ له لاسه ورکړو موږ به د وچکالۍ او ډیرو نورو بدمرغیو سره مخ شو.



پاڼې د یو څه سوچ نه وروسته پوښتنه وکړه: بابا جانه کوم ډول مصرف د هوا ککړتیا ډېروي زه سمه پوه نه شوم؟

بابا: مثلا د پخلي لپاره د لرګیو سوځول، په موټرو کې د ټیټ کیفیت لرونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېلو کارول یا د زاړه موټرو چلول او په عامه ځایونو یا کارخانو کې د لرګیو او د ډېرو سکارو سوځول، هغه څه دي چې هوا ککړوي او ډېرې زهرجن ګازونه تولیدوي چې وروسته د ډول ډول تنفسي ناروغیو تر څنګ د سرطان، زړه، پوستکي او رواني ناروغۍ هم پیدا کوي.

وړانګه او پاڼه ډېرې خپه شوې. یو بل ته یې وکتل سرونه یې وښورول.

پاڼې وویل: دلته خو ټول وخت همدا توکي کارول کېږي.

وړانګې پوښتنه وکړه: کاکا جانه نو څه باید وشي چې مخنیوی یې وکړو؟

بابا: د خپل کور نه یې پیلولی شو. ډېر پلاستیک و نه کارو، مثلا د پلاستیکي کڅوړې پر ځای د تکې کڅوړه وکاروو، کثافت هره خوا و نه غورځوو، د پلاستیک سوځولو نه ډډه وکړو. بېځایه اوبه مصرف نکړو. د باندې چې ووینو د اوبو نل خلاص پاتې دی بند یې کړو.

دواړو بابا جان سره ژمنه وکړه چې له دې وروسته به ډېر پام کوي او که وګوري چې نور خلک پام نه کوي هغوی ته به هم دا پیغام رسوي.

بابا هم خوشاله شو چې دوی دومره په مینه هر څه ته غوږ نیولی و.

بابا دوی ته د غره ډډه کې له یوه دوکان نه ایسکریم واخیست او کور خوا ته روان شول. په لار کې یو وړوکي هلک د اوبو نل خلاص کړی و او لوبې یې ورسره کولې. پاڼې چې ورپام شو منډه یې کړه، نل یې بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړوکـي هلـک تـه يـې وويـل: ولـې داسـې کـوې؟

هلک چې حيران و وويل: ستا يې څه دا زموږ نل دی.

پاڼه له غوسې نه سره شوه ويې ويل: ته نه پوهېږې چې ته نړۍ ته څومره تاوان رسوې. که داسې کارونه کوې څو کاله وروسته به يو څاڅکی اوبه هم نلرې. همداسې غواړې ها؟

هلک د پاڼې په خبره نه پوهېده چې څه وايي او څه غواړي.

بابا يې ورو پاڼې ته غږ کړ: لور مې، ته دوی ته بايد ټوله کيسه داسې وکړې لکه ما چې تاسو ته وکړه، کنه دا بيچاره له کومه پوه شي چې ستا د دې خبرو نه څه مطلب دی.

پاڼې ځان ته پام شو چې رښتيا هم دی له کومه پوه شي چې څه وايم. هلک ته ورغله وويل: غواړې چې زه کيسه درته وکړم چې ولې به اوبه نه وي؟

هلک په نه زړه وويل: هو ووايه چې څه خبره ده.

پاڼې او وړانګې دواړو يوه په يوه ټوله کيسه چې بابا نه يې اورېدلې وه هلک ته تېره کړه. هلک د پاڼې په خبرو يې خاص باور نه راته. بابا ته يې وکتل. بابا سر وښوراوه ويې ويل: هو زوی مې دا ټولې خبرې سمې دي. د دې لپاره چې يوه ورځ د اوبو نشتون سره مخ نشو بايد سر له اوسه ډېر پام وکړو. هلک هم ژمنه وکړه چې بيا به داسې بې احتياطي نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا ډېر خوشاله و، نه دا چې، پاڼه او وړانګه په خبره پوه شوې بلکې دوی کولی شي چې نور خلک هم دې ته اړ کړي چې اوبه سمې وکاروي.

د ماښام تياره په خورېدو وه چې دوی بېرته کور ته ورسېدل. پاڼې د خوب تر وخته له بابا جان نه يې پوښتنې کولې او بابا جان يې هرې يوې پوښتنې ته په خوارا حوصله او مينه ځوابونه ورکول.

د سپوږمۍ سپينې وړانګې د ياسمن ګلانو له منځ نه کړکۍ ته رارسېدلې او کوټه يې رڼا کړې وه. د پاڼې سترګې سره ورغلې وې او په خواږه خوب ويده شوې وه. بابا يې کمبله پرې سمه کړه، مخ يې ښکل کړ او ورو له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڼه او اسمان

د روژې میاشت وه، روژه ماتي نه وروسته بابا، مور او پاڼه انګړ کې ناست وو او کیسې یې سره کولې. پاڼې د بابا په زنګون سر کېښود او اسمان ته یې وکتل. ستوري په اسمان کې ځلېدل، سپوږمۍ هم نرۍ ښکارېده. پاڼه په اسمان کې ورکه وه، د مور یې ورپام شو، غږ یې پرې وکړ: شاهزادګۍ! بیا کومه دنیا کې ورکه یې.

بابا یې وخندل: پرېږده چې خپله نړۍ کې واوسي. زما د نانځکې دنیا ډېره ښایسته ده.

پاڼه په ځای کې نیغه کېناسته ویې ویل: هو مورې هر ځل مې پسې اخلې. اوس مې بیا څه کړي؟

بابا جانه ما ستورو ته کتل، څومره ډېر دي، زموږ نړۍ هم همداسې یو ستوری دی کنه؟

بابا د چایو نه یو غوړپ وکړ، اسمان ته یې وکتل. ستوري ښایسته ځلېدل. مور یې لاس په تندي کېښود ویې ویل: اوف خدایه اوس به بیا د دوی لابراتواري کیسې پیل شي.

بابا موسکی شو ویې ویل: ته هم غوږ شه، کومه ورځ به دې په کار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور: زه ترې تېره يم، دا نازولې دې پوه کړه، زما سر هسې هم نه پرې خلاصيږي. که ستا غوندې ښوونځي ته تللې واى درس مې ويلى واى اوس به زه هم پرې پوهېدم.

پانه: زه هم هره ورځ يو څه په ښوونځي کې يا بابا جان سره زده کوم، که وغواړې ته هم زده کولى شې، که همدا نن هم پيل وکړې ډېر څه به زده کړې. له دې وروسته زه هره ورځ تا سره درس وايم.

بابا يې پر سر مچو کړه: افرين لورکۍ مې، دا به يو لوى خدمت وي. زما خبره خو نه مني کنه اوس به يې پوهنځى هم خلاص کړى و.

مور: ښه بس بس، اوس بيا پلار او لور دواړه راته يو خوا شول. سمه ده له دې وروسته هره ورځ درس وايو خو په يو شرط.

پانه: هر شرط منم، ووايه کوم شرط؟

مور: دا چې ته به هم د پخلي او کور کار کې مرسته راسره کوې.

پانې خپل مخ په لاسونو پټ کړ: اوه نه ...

ـ دا مې څه ومنل.

ـ ښه سمه ده منم يې.

بابا غلى و او اسمان ته يې کتل. پانې يوې نوي کيسې ته ځان چمتو کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا يې وويل: پوهيږې چې سپوږمۍ له موږ نه څومره لرې ده؟

پاڼه: لس زره کيلومتره؟




بابا: نه، تر دې هم ډېره زياته؛ سپوږمۍ ۳۸۰۰۰۰ کيلومتره له موږ نه ليرې ده
نو اوس ښه فکر وکړه چې لمر به څومره له ځمکې نه لرې وي؟

پاڼه: اوهو دا خو سخته شوه، فکر کوم چې يو ميليون کيلومتره به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا: ځمکه د لمر نه ۱۵۰ میلیون کیلومتره لرې ده. که چیرې یوه الوتکه په ساعت کې د ۹۰۰ کیلومترو چټکوالي سره حرکت کې وي، نو موږ ته شل کاله په کار دي، چې لمر ته ورسېږو. لمر یو ستورى دی، چې درې برخې د هایډروجن او یوه برخه د هېلیم له ګازونو نه جوړ شوی. پخوا خلکو فکر کاوه چې د لمر مخ کلک دی، خو له سلو کلونو را پدې خوا کارپوهانو کشف کړه، چې لمر یوازې د ګازونو نه جوړ شوی، چې مقناطیسي قوه جاذبې د توپ په ډول سره غونډ کړی او ساتلی. څه فکر کوې لمر به له ځمکې نه څومره غټ وي؟



پاڼه: درې برابره، نه نه، لس برابره. همداسې ده؟

بابا: نه لور مې تر هغه هم ډېر، لمر ۱۱۰ ځلې تر ځمکې غټ دی. د ځمکې په څېر ۸ نورې سیارې په لمر راڅرخي چې عطارد، زهره، ځمکه، مریخ، مشتري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زحل، اورانوس او نپټون دي. دا ځینې خپلې سپوږمۍ هم لري.

پاڼه: باباجانه سپوږمۍ کې هوا ګرمه ده؟

بابا وخندل: لور مې، په سپوږمۍ کې د ورځې له خوا مثبت ۱۳۰ درجې او د شپې له خوا منفي ۱۵۰ درجې ته رسیږي.

پاڼې چیغې کړې: اوه، نو هلته خو هیڅ شی هم نه پاتې کیږي. یا به له ګرمې نه مري او یا له یخ نه. زما ټول خیالونه او فکرونه یې راخراب کړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا: هغه څنګه؟

پاڼې په شرمېدلي انداز وویل: ما ویل چې یوه ورځ به هلته ځان ته ښکلې ماڼۍ جوړوم او بیا به تاسې هم راولم.

بابا وخندل: خیر هلته که نه کیږي، وایي چې د مریخ جوړښت د ځمکې ته ډېر ورته دی، هلته به بیا یو قصر جوړ کړې.

پاڼې تر ډېره اسمان ته کتل او فکرونو کې به ډوبه وه. بابا یې ورته پام و ورو یې خبره پسې وغځوله: لور مې، ته پوهېږې چې الله (ج) څومره پر موږ مهربانه دی. زموږ لپاره یې هر څه پیدا کړي، دا اوبه، اسمان، هوا، ځمکه، میوه، ژوي، شنه نباتات، معدنونه او داسې ډېر نور چې لا یې موږ په راز خبر هم نه یو. اوس نو زموږ دنده هم دا ده چې له دې هر څه نه په سم ډول ګټه پورته کړو، د بې ځایه مصرف او تخریب نه یې مخنیوی وکړو.

پاڼې سر وښوراوه: هو بابا جانه زه چې اسمان ته ګورم د الله (ج) قدرت ته حیرانه شم. او د ځمکې پر سر دې ټولو شیانو ته مې خو پام هم نه و.

بابا وویل: هله لور مې درځه چې د لمانځه وخت دی او سبا به بیا ښوونځي ته په خپل وخت نشې پاڅېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باران

د پاڼې مور د کړکۍ تر څنګ ولاړه وه او بهر يې د باران ننداره کوله. ځان سره يې ويل، ښه شو چې باران وشو، بوټي او ګلان وچ شوي وو. خاورې او دوړې به هم کمې شي. بيا يې پام شو چې ټول ځايونه به خټې وي او پاڼه به بيا په غوسه وي. همدې سوچونو کې وه چې پاڼه د چوترې له دروازې نه رادننه شوه. کالي يې ټول لمده شوي وو. له ورايه يې غوسه په مخ کې ښکارېده. مور يې موسکۍ شوه يو ځانپاک يې ځان سره واخيست ور روانه شوه.

پاڼه چې د دالان مخ ته رسېده مور يې هم وروړسېده ويې ويل: زما لورکۍ په څه حال ده.

پاڼې چې خپل بکس غېږ کې کلک نيولی و وويل: پوهېږې مورجانې زه د ځان غم کې نه يم خير ده چې لمده شوې يم خو زه فکر کوم چې زما بکس منځ کې هر څه لمده شوي، زه يې له وېرې نه شم خلاصولی. که مې کتابونه او کتابچې خراب شوي وي زه خو به مړه شم.

مور يې وويل: مړه دې بلا شه، زما لورکۍ تاته دې الله اوږد عمر درکړي. ته مه خپه کېږه ان شاءالله چې هر څه به سم وي.

مور يې ورو بکس خلاص کړ په رښتيا هم چې د باران اوبه بکس ته نه وې تللې. پاڼه د بکس منځ په ليدو له خوشالۍ نه په مور غېږ راتاو کړه او چيغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کړه: خدايه شکر زما کتابونه او کتابچې سلامت دي.

مور او لور په خبرو کې ګرمې وې چې يو سيورى يې وليد، دواړو له وېرې ناري کړې.

بابا زر غږ کړ: زه يم، زه يم مه ويرېږئ!

دواړو يوه اوږده سا واخيسته، مور ووېل: مړ خو دې سختې وويرولو. داسې غلى څوک راننوځي، يو غږ خو به دې کړى واى.

بابا وخندل: ما خو سلام وکړ خو تاسې دواړه سختې يو له بل سره بوختې وئ او زما بېچاره سلام مو هم نه اورېده.

بابا د پاڼې په سر لاس راتېر کړ ويې ويل: لور مې لمده شوې، هله زر دې کالي بدل کړه چې ناروغه نشې.

پاڼه: هو باباجانه داسې يو ناڅاپه باران ګير کړم چې د تښتېدو لار مې هم نه وه. رښتيا بابا جانه د باران په اړه مو تر اوسه خبرې ندي کړې.

بابا يې سوچ کې شو ويې ويل: پر دې مهمې موضوع مو خبرې ندي کړې؟

که خوښه دې وي، له ډوډۍ نه وروسته به خبرې پرې وکړو؟!

بابا د پاڼې په کوټه کې د کړکۍ تر څنګ کېناست، پاڼې ته يې د شيدو توده پياله ورکړه. د بابا په لاس کې د شنه چاى پياله وه، ورو يې غوړپ ترې وکړ، پاڼې ته يې مخ کړ ويې ويل: د باران په جوړېدو کې د اوبو دوراني حرکت،

(c) ketabton.com: The Digital Library





عمده رول لوبوي. بحرونو، سیندونو او نباتاتو کې اوبه تبخیر کیږي. تبخیر لپاره باید هوا ګرمه وي او د ګرمې هوا لپاره موږ لمر ته اړتیا لرو. تبخیر شوي اوبه د کوچنیو ځاځکیو په څېر چې موږ یې په سترګو نشو لېدلی او ګاز ته ورته وي شکل اخلي. بخار کم وزن لري نو ځکه اسمان خوا ته حرکت کوي. هر څومره چې هوا سړېږي همدومره دا بخار سره نږدې کېږي او وریځ ترې جوړیږي. له لاندې نه نورې وریځې هم ورروانې وي او ورسره یو ځای کیږي. وریځې یو په بل فشار راولي او د همدې فشار له امله ځاځکي هم غټ شي او وریځې په اسمان کې وزن پیدا کړي. کله چې وزن ډېر شي بیا ببرته د باران

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شکل څڅيږي او ځمکې ته راښکته کيږي.

پاڼه، بابا جان ته غوږ وه ورو يې وويل: او واوره بيا څنګه جوړيږي؟

بابا جان وويل: لور مې، ښې خبرې ته دې پام دی. په وريځو کې يوازې د اوبو څاڅکي نه وي بلکې د يخ واړه کرېستالونه هم وي. البته دا نور هم پاس چېرته چې هوا ډېره يخه وي جوړيږي. د يخ کرستالونه د اوبو څاڅکي جذب کوي او په دې ډول غټيږي. يو وخت يې وزن ډېريږي او بيا د واورې يا هم ږلۍ په دول ببرته ځمکې ته راکښته کيږي. کله چې ځمکه کې هوا ډېره يخه نه وي نو په لار کې ببرته د يخ باران په څاڅکي بدل شي. نو ځکه کله د باران څاڅکي ګرم او کله هم يخ وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڼه او اقلیم

پاڼه او وړانګه دواړه په انګړه کې ناستې وې او سرونه یې ټیټ نیولي وو، قلمونه یې لاس کې وو او کوم څه یې لیکل. بیا به دواړو یو له بل سره مشوره وکړه او له سره به یې پیل وکړ. د بابا یې له کوټې نه پرې پام و چې دواړه سختې بوختې دي.

بابا د یوه کتاب په لوستلو کې ډوب و چې دواړه یې سر ته نیغې ودرېدې.

بابا سر پورته کړ، دواړو ته یې وکتل. د دواړو څېرې قهرجنې غوندې ښکارېدې.

بابا: دا زما په لورګانو څه شوي؟

پاڼه: بابا جانه مور ته یې په ښوونځي کې کورنۍ دنده راکړې. موږ باید د اقلیم په اړه یوه مقاله ولیکو. اوس وړانګه وایي چې باران، واوره، باد دا ټول اقلیم دی. زه وایم چې دې ته هوا وایي، اوس نو ته ووایه چې د چا خبره سمه ده؟

بابا له ځایه پورته شو. د کړکۍ خوا ته یې خو ګامه واخیستل، اسمان ته یې وکتل. دواړه یې ورو‌بللې چې ورشي.

بابا وویل: اسمان کې څه وینئ؟

دواړو پاس وکتل، وړانګې وویل: اسمان شین دی او لمر په ډوبېدو دی.

پاڼه: څو سپینې وریځې هم ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا: ډېر ښه. لږ شېبه وروسته به څه پېښ شي؟

دواړو غبرګ وویل: لمر به ډوب شي او تیاره به شي.

بابا: هو بلکل. همدې ټولو ته موږ هوا ویلی شو، هغه څه چې موږ د کړکۍ نه د باندې وینو، هغه که لمر وي که باران او یا هم واوره. هر هغه څه چې زر بدلون کوي هغه ته هوا ویلی شو. لکه همدا اوس چې موږ لمر لېده او څو ورېځې هم اسمان کې په حرکت کې دي خو بله شېبه به دا یو هم نه وي.

اقلیم بیا د هوا اوږدمهالي درجې او ځرنګوالي ته وايي، چې لږ تر لږه ۳۰ کاله د تودخې درجې اندازه شوې وي. دا اندازه د ځمکې په بېلابېلو سیمو کې تر سره کېږي. مثلآ په شمالي قطب کې هوا ډېره سړه ده، هلته تل واوره پرته وي خو په صحرا کې بیا هوا ډېره ګرمه ده، نو ځکه په مختلفو سیمو کې د تودوخې درجه اندازه کېږي.

بابا پوښتنه وکړه: څنګه د هوا او اقلیم په توپیر پوه شوی؟

دواړو سرونه وښورول، پاڼې وویل: ما خو له اوله ویل چې دواړه یو ندي.

بابا: ښه نو اوس چې تاسې دومره تکړه یئ او د اقلیم په اړه مقالې لیکی نو لږ به نور هم پرې وغږېږو که څنګه؟

وړانګې وویل: هو زه غواړم په دې هکله نور معلومات هم ولرم. پاڼې چندان زړه نه کېده چې نور درس ووايي خو د وړانګې علاقه یې چې ولېده دا هم تشویق شوه.


(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې منځ کې د مور غږ له پخلنځي نه راغی چې پاڼه يې وربلله.

پاڼه په منډه ورغلله، ډوډۍ تياره وه. دسترخوان يې ځان سره راوړ او و يې غوړولو. وړانګه هم مرستې ته ورغله. ډوډۍ په دسترخوان کېښودل شوه او ټول پرې راټول شول.

وړانګې وويل: هر ځل چې دلته ډوډۍ خورم تر څو ورځو يې خوند زما په خوله کې پاتې وي. ترورې ربښتيا چې ډېره خوندوره ډوډۍ پخوې.




مور ترې مننه وکړه: هر وخت دې چې زړه وي راځه. ته هم زما لور يې.

ډوډۍ نه وروسته پاڼې او وړانګې هر څه ټول کړل او لوښي يې هم ومينځل.

بېرته بابا جان ته راغلې او تر څنګ يې کېناستې اوغوږ شوې.

بابا وخندل او ويې ويل: ښه نو اوس به په مړه خېټه خبرې وکړو، فکر کوم زما نانځکه وږې شوې وه او ځکه يې د خبرو حوصله لکه چې نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼې وخندل ویې وویل: بابا جانه ته څنګه زما په خیال پوه شوې، اوس نو ځان سره پټه فکر هم نشم کولی وېرېږم چې هر څه لولې.

ټولو وخندل، بابا وویل: د اقلیمي بدلون په اړه مو څه اورېدلي؟

دواړو د نه ځواب ورکړ.

بابا: ښه نو یو څه به نن په دې اړه ووایم او یو څه به هم بلې ورځې ته پرېږدو ځکه چې ډېر څه ورسره تړلي دي. زموږ ژوند هم ورسره تړلی دی.

ـ ویل کېږي چې د ځمکې د تودوخې درجه لوړه شوې ده او که چېرې موږ یې مخنیوی ونه کړو ممکن چې راتلونکي څو کلونو کې دا نوره هم لوړه شي. دا تودوخه به په قطبونو کې یخچالونه ویلي کړي. د یخچالونو اوبه به د بحر اوبو ته ورګډې شي او د اوبو سطحه به په بحرونو کې لوړه شي. اوبه به ځینې جزیرې وړې کړي او حتا ځینې به له منځه یوسي.

ـ هوا به هم بدلون وکړي، سخت بارانونه او ږلۍ به زور واخلي. وچکالي او ګرمي به هم ورسره ډېره شي. ځینې ځایونو کې به سېلابونه ډېر شي، خو په ځینو نورو سیمو کې به بیا ځمکې شاړې او په دښتو بدلې شي. د ډېرې ګرمۍ او د باران له نشتون نه به ځنګلونه اور واخلي. د ځنګلونو نشتون یا کمبدل ځمکې ته ډېر تاوان رسوي ځکه ونې کاربن ډای اُکسایډ جذبوي. که ځنګلونه نه وي کاربن ډای اُکسایډ اتموسفیر ته ځي او دا بیا د تودوخې درجه نوره هم لوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د بحرونو اوبه به هم ګرمې شي، هلته به د کبانو ډېر ډولونه، نهنګ او مرجان د تل لپاره له منځه لاړ شي.

ـ د هوا د تودوخې د دومره چټک بدلون سره، د ژویو او نباتاتو ډېر ډولونه ځانونه نشي برابرولی نو ځکه دوی ته د دې خطر شته، چې د تل لپاره له منځه لاړ شي. موږ انسانان به هم دې ته اړ کړې چې له خپل کور او هېواد نه مهاجر شو ځکه نور به اوبه او غله نلرو. د څښاک اوبه او د خوراک لپاره به څه نه پیدا کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زما ښايستو، دا وو د اقليم د بدلون د اغېز په هکله معلومات، چې په عمومي ډول مې تاسو سره شريک کړل. که چېرې يې مخه ونه نيسو نو زموږ ښايسته نړۍ به راته بدرنګه کړي او ژوند کول به نه يوازې انسانانو ته بلکې حيواناتو او نباتاتو ته به هم سخت شي.

پاڼه او وړانګه لکه سا اخيستل يې هم چې هېر وي غلې غوږ وي. دواړه خپه ښکارېدې. زړه کې يې ډول ډول خبرې راګرځېدې.

پاڼې وويل: کاش يوه جادويي لکړه مې درلودی، کله مې چې ښورولی هر هغه څه مې چې غوښتل هماغسې کېدای. دا ټولې ستونزې به مې د سترګو په رپ کې ورکې کړې وای.

وړانګه او بابا په خندا شول. ټول ځايونه تيارې په غېږ کې نيولي وو، په وړانګه باندې ناوخته شوی و. زر يې خپل قلمونه او کتابچې ټولې کړې، ټولو سره يې خدای په اماني وکړه او په منډه کور ته لاړه. وړانګې لار کې ځان سره فکر کاوه چې څنګه د بابا جان جالبو کيسو وخت ترې هېر کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګلخانې ګازونه څه دي؟

سبا ورځ وروسته له ښوونځي نه وړانګه بیا د پاڼې سره د دوی کور ته راغله. همدا چې په بابا یې سترګې ولګېدې ورمنډه یې کړه ویې ویل: کاکا جانه ما پرون ټول وخت ستاسو د خبرو په اړه سوچ کاوه. ما ویل نو له دې ټولو بدمرغیو نه څنګه مخنیوی کولی شو؟

بابا موسکی شو د وړانګې پر سر یې لاس تېر کړ: زه همدې پوښتنې ته منتظر وم. دلته باید لومړی تاسو ته د ګلخانې ګازونو سیستم تشریح کړم.

پاڼه له چوترې نه را دننه شوه، مخ یې سور و. زر یې د یخو اوبو یو ګوټ وکړ.

بابا جان ته یې ورمخ کړ ویې ویل: اوف بابا جانه نن خو سخته ګرمي ده. هېڅ باد نشته نه پوهېږم چې چېرته خوب وړی.

بابا یې وخندل ویې ویل: باد ویده ندی، ویښ دی او راځي لورکې مې. هو رښتیا پوهېږې چې څنګه او له کومه راځي؟

د پاڼې سترګې له حیرانۍ نه ګردې ګردې راوتلي وې: بابا جانه ما په ژوند کې هم د باد په اړه فکر نه و کړی چې له کومه راځي او څنګه رامنځته کیږي.

بابا وویل: ښه نو که خوښه مو وي زه به یې کیسه درته وکړم چې څنګه رامنځته کیږي. لمر په بیلابیلو ځایونو کې په بېل ډول تودوخه ویشي. د استوا په خط

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تل هوا ګرمه وي، خو په شمالي او جنوبي قطبونو کې بیا هوا یخه وي. ګرمه هوا کم وزن لري نو اسمان خوا ته پورته کیږي، هر څومره چې پاس ځي هلته د تودخې درجه کمیږي او بېرته یخه کیږي. له لاندې نه چې کومه ګرمه هوا پاس تللې، هغه ځای باید خالي پاتې نشي نو څه فکر کوې چې څه کیږي؟

دواړو یو بل ته وکتل خو په ځواب یې نه پوهېدې. بابا خبره پسې وغځوله، هو د هغې هوا ځای باید خالي پاتې نشي نو له کوم بل خوا نه هغه ځای ته هوا راځي او ځای یې ډکوي چې په دې ډول یو دوراني حرکت رامنځته کیږي. له همدې دوراني حرکت نه باد رامنځته او په الوتو کیږي.

دواړو اسمان ته وکتل، داسې ښکارېده چې ډېرې پوښتنې یې په ذهن کې راڅرخېدې.

بابا وویل: دا دی د باد په کیسه هم خبرې شوئ چې له کومه راځي. اوس به راشم اصلي کیسې ته.

د ځمکې شا او خوا یو بې رنګه د ګازونو قشر راچاپېره شوی دی. دې قشر ته اتموسفیر وایي. اتموسفیر له بېلابېلو ګازونو نه جوړ شوی، چې ۷۸ فیصده نایتروجن،۲۱ فیصده هایډروجن، ۱ فیصد ارګون او یو څه نور ګازونه هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به یو څو بېلګې یادې کړم چې ولې اتموسفیر موږ ته دومره اړین دی:

۱ـ اتموسفیر موږ له وژونکو وړانګو څخه ساتي.

۲ـ اتموسفیر د لمر وړانګې تصفیه کوي او له هغه وروسته یې ځمکې ته راپرېږدي.

۳ـ د لاندې او باندې هوا تبادله چې نتیجه کې باد رامنځته کېږي.

۴ـ د هوا چټک ګرمېدو او یخ کېدو نه مخنیوی کوي.

۵ـ د ځمکې پر سر د ۱۵ درجې اوسط ثابت ساتي.

٦ـ د اورښت ویش تیاکي.

۷ـ اتموسفیر کې اوبه د وربخې په شکل شته چې بیا موږ ته باران او واوره راکوي. یعنې اتموسفیر زموږ هوا جوړوي.

د کلونو په تېرېدو سره انسانان ورځ په ورځ ډېر کاربن ډای اُکسایډ او نور ګازونه تولیدوي، چې په دې ډول د هوا ککړتیا ډېرېږي. اتموسفیر د ځمکې لپاره کټ مټ لکه د ګلخانې غوندې دنده تر سره کوي.

بابا وویل: درځئ چې یو ځل د کور ګلخانې ته لاړ شو.

دواړه د بابا جان سره د کور ګلخانې ته چېرته چې دوی ښایسته ګلان او یو څه ترکاري کرلي وو لاړل.

بابا جان وویل: پاس د ګلخانې چت وینئ؟


(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو پاس وکتل، چت له پلاستیک نه جوړ شوی و.

هو، وینو یې. پلاستیک دی.

بابا: له دې پلاستیک نه د لمر وړانګې مستقیماً دلته راننوځي او تودخه یې ذخیره کېږي. کله چې ګلخانه ګرمه شي تر ډېره دا تودوخه ساتلی شي. نو ځکه اتموسفیر هم همداسې یوه دنده لري. اتموسفیر د لمر سوزوونګي




وړانګې فلتر کوي، تودې وړانګې ترې جوړوي او بیا یې ځمکې ته راپرېږدي. لکه څنګه چې پوهېږو لمر یوازې د ورځې له خوا نه ځلیږي خو بیا هم هوا د شپې له خوا ډېره یخه نه وي. دا ځکه چې ځمکه یوه اندازه وړانګې جذب کوي او نور بېرته منعکس کوي. اتموسفیر کې د مېتان او کاربن ډای اُکسایډ په شان ګازونه نه پرېږدي چې ټوله تودخه له ځمکې نه بېرته ووځي، یوه اندازه ځان سره ساتي، دوهم ځلې یې بیا ځمکې ته را استوي او نوره یې بېلو خواوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته استوي. که چېرې اتموسفير دا کار نه کاوه، د ځمکې پرسر ژوند کول به ناممکنه واى. د ځمکې پر سر به هوا منفی ۱۸ درجې واى. صفر درجه کې اوبه يخ کيږي، نو تاسې فکر وکړی چې منفی ۱۸ درجې به څومره سړه هوا وي!

بابا وويل: ښه څنګه زما نانځکوو تر دې ځايه په هر څه پوه شوئ؟

دواړو وويل: هو تر دې ځايه خو پوه شوو.

پاڼې وويل: بابا جانه نو دا خلک ولې د تودوخې او اقليم بدلون نه داسې سر ټکوي. اتموسفير خو خپل کار سم تر سره کوي.

بابا وخندل: هو لور مې، اتموسفير خو سم کار کوي خو ستونزه په موږ انسانانو کې ده.

وړانګه: هغه بيا څنګه؟

بابا: لکه څنګه چې ګورئ ژوند هره ورځ په تغيير کې دی. د ځمکې نفوس ډېريږي. هر څومره چې نفوس ډېر شي همدومره خلک کور، کار، سرک، موټر او خوراکي توکو ته اړتيا پيدا کوي. په دې ډول مصرف ډېريږي. همدا اوس په چين کې ٦ غټ ښارونه دي چې نفوس يې له ۱۰ مليونو نه اوړي او د جاپان پلازمېنه توکيو کې ۳۷ مليونه خلک ژوند کوي. کله چې د کور جوړولو لپاره کافي ځمکه نه وي نو ځنګلونه وهل کيږي، هغه سره د سړکونو جوړولو ته هم اړتيا ډېريږي. فابريکې بايد خپل توليدات ډېر کړي، لا ډېرې نوي فابريکې هم بايد جوړې شي. له هغه سره کثافات ډيريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





همدا اوس ۱۵۰ میلیونه ټنه پلاستیک په بحرونو کې لامبي. دا ټول شیان د دې سبب کیږي چې موږ لا ډېر زیان لرونکي ګازونه تولید کړو. دا ګازونه داسې په اسانۍ په اتموسفیر کې له منځه نه ځي او همدا ده چې هلته ګډوډي جوړوي. دا ګډوډي د دې لامل کیږي چې د ځمکې پر سر تودخه تر پخوا تر ډېره پاتې شي ځکه چې اتموسفیر یې سم نشي فلتر کولی. کاربن ډای اکسایډ چې موټر او فابریکې یې تولیدوي، ویل کیږي چې ۱۲۰ کاله په اتموسفیر کې پاتې کیږي. میتان ګاز چې د کرهنې، فوسیلي سونګ توکو، کثافاتو او حیواناتو ځخه تولیدیږي، که څه هم دومره ډېر ندي، خو بیا هم ۲۵ ځلې تر کاربن ډای

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُکسایډ ډېر مضر دی. نایټروس آکسایډ ګاز (N۲O) تقریبا ۳۰۰ ځلې تر کاربن ډای اکساید ډېر مضر دی خو د دې اندازه هم ډېره کمه ده.

کاربن ډای اُکسایډ مو د ځمکې پر سر په کار دی. ونې او شنه بوټي کاربن ډای اُکسایډ جذبوي او پر ځای يې اکسيجن چې انسانان او حيوانات يې تنفس کوي توليدوي ځکه خو ويلی شو چې ځنګلونه د ځمکې سږي دي. دې پروسې ته فوتوسنتز هم وايي.

پاڼه چې نور ګنګسه شوې وه وويل: باباجانه زه خو لا هم سمه پوه نشوم، يعنی دا ګازونه زموږ د ځمکې د تودوخې درجه ډېروي؟

بابا: هو همداسې ده، که له اندازې نه ډېر ګازونه اتموسفير ته لاړ او پاتې شي هلته سيستم ګډوډوي. اوس هم د ۱۸۵۰ميلادي کال نه را په دې خوا ۱،۱درجه هوا ګرمه شوې او که مخنيوی يې ونه شي ډېرې بدې پايلې به ولري.

دواړو لپاره دا ټول معلومات ډېر زيات وو، خو له بل پلوه په زړه پورې هم وو او د ماښام تياره هم په خوربدو وه.

بابا دواړو ته مخ کړ او ويې ويل: فکر کوم چې نن مې ډېرې خبرې وکړې. اوس ناوخته دی او ستړي شوې به هم يئ.

دواړو خبره ورسره ومنله. وړانګه خپل کور ته روانه شوه. پاڼې يوه کتابچه او قلم را واخيستل، د بابا ورکړل شوي معلوماتو په ليکلو بوخته شوه. بابا يې ورپام

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، پوښتنه يې ترې وکړه: لور مې څه ليکې؟

پاڼه: بابا جانه ماته ستا خبرې ډېرې جالبې وې، وېرېږم چې هېرې مې نشي. دا ټولې ليکم او بيا سبا ته يې خپلې ښوونکې ته هم وايم.

بابا: خوشاله شو، ځان سره يې وويل، که هر څوک دې مهمې پېښې ته پام ونيسي ان شاء الله چې له بدمرغيو به په امن کې اوسو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اقليمي بدلون مخنيوی

پاڼه او وړانګه څو ورځې په ښوونځي او کور کې د اقليمي بدلون په خبرو اخته وې. هره ورځ به يې نوي پوښتنې درلودې او بابا جان به يې تر ډېره کيسې ورته کولې. په ښوونځي کې يې هم دا خبرې ډېرې تودې روانې وې. ډېرې ښوونکو هم علاقه ښودلې وه او غوښتل يې چې نور هم ډېر معلومات ولري. بله ورځ پاڼه له ښوونځي نه په منډه منډه کور ته راغله، په سوځېدلې سا يې بابا جان ته وويل: باباجانه پوهېږې نن څه وشول؟

بابا: نه بچو نه پوهېږم چې څه شوي او چېرته شوي.

پاڼه: اوهو بابا جانه په ښوونځي کې يادوم. پوهېږې نن زموږ ښوونځي کې زياتره زده کوونکي ناروغه وو. ويل يې هغه بل کلي کې هوا کې کوم څه وو او دوی يې ناروغه کړي. خو زه پوه شوم چې دوی ولې ناروغه وو.

بابا: ښه ته پوهه شوې چې ولې ناروغه وو؟

پاڼه: هو، تا چې ما ته د هوا ککړتيا کيسې کړې وې، زه وايم چې د دوی د کلي هوا خرابه شوې نو ځکه ټول ناروغه شوي وو.

بابا يې وويل: زما لور خو ډېره هوښياره شوې. زه وايم ته به خامخا راتلونکې کې ډاکټره شې. که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼه: نه باباجانه زه غواړم ستا غونډې اقلیم او ځمکې ساتلو په برخو کې کار وکړم. خپله نړۍ وژغورم.

بابا یې پاڼه ښکل کړه: الله دې بریالۍ لره لورکۍ مې.

د پاڼې مور دروازه کې ولاړه وه، د دوی خبرو ته غوږ و ویې ویل: هو پلار لور وخته پلانونه جوړ کړي. اوس راځئ چې ډوډۍ یخیږي، که یو ځل بیا ستاسو مجلسونه شروع شي تر سبا هم نه خلاصیږي.

له ډوډۍ نه وروسته پاڼه د بابا څنګ ته ورغله: بابا جانه تا هغه ورځ د اقلیم بدلون پایلو په اړه کیسې راته وکړې. ما غوښتل چې د مخنیوې په اړه یې هم یو څه معلومات راکړې. ایا موږ یې هم مخنیوی کولی شو؟

بابا: هو لورکۍ، هر څوک کولی شي چې له ځان نه یې پیل کړي او په مخنیوې کې یې ونډه واخلي. هغه متل دې اورېدلی، چې وایي څاڅکی څاڅکی دریاب کیږي. نن به یو څو نورو شیانو باندې هم وغږیږو. څنګه دې خوښه ده چې وړانګې ته هم غږ کړې.

پاڼه: وی هو، هغې ویلې و چې کله موږ د اقلیم په اړه خبرې کوو هغې ته هم غږ کړم. زه زر راځم بابا جانه.

بابا منتظر و خو پاڼې پسې ځنډ کړ. بابا یې هم پسې ورغی. د وړانګې کور کې ټول وارخطا وو او په منډو ښکارېدل. پاڼه د وړانګې تر څنګ خپه ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا ورنېږدې شو، پوښتنه يې وکړه: څه خبره ده ولې داسې خپه يې؟

پاڼه ورو بابا ته ورنېږدې شوه ويې ويل: بابا جانه د وړانګې پلاز ناروغه دی.
وايي سا يې نشوی اخيستی.

بابا د وړانګې د پلاز کوټې ته په منډه ورغی. لږ شېبه وروسته بېرته راووت.
دواړو ته يې مخ کړ ويې ويل: زه حکمت صيب روغتون ته ورم. د انديښنې وړ
خبره نده.

دواړو سرونه وښورول. شېبه وروسته بابا د وړانګې پلاز او ورور سره د روغتون
پر لور روان شول.

د پاڼې مور هم راغله او د وړانګې مور ته يې ډاډګيرنه ورکوله. شپه ښه تياره
شوې وه چې بابا د وړانګې پلاز او ورور سره بېرته راستنه شول. د وړانګې پلاز
هم ښه ښکارېده.

بابا پاڼې او مور ته يې غږ کړ: مورې به کور ته لاړ شو حکمت صيب ارام ته اړتيا لري.

حکمت صيب او کورنۍ يې له بابا نه ډېره مننه وکړه.

په لار کې پاڼې له بابا نه پوښتنه وکړه: بابا جانه، کاکا باندې څه شوي وو؟

بابا يوه ژوره سا واخيستله ويې ويل: اه لورکۍ مې دا هم د هوا ککړتيا د
بدمرغيو يوه بله بېلګه ده. کاکا حکمت دې د سا بندۍ ناروغي لري. چېرته
چې دې کار کوي هلته دوی د برېښنا د توليدلو لپاره غټ ډيزلي جنراتوران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروي. ډيزلي جنراتوران هم زيان رسونکي ګازونه توليدوي او هوا ککړوي. کاکا حکمت ته دي دا ګازونه زهر دي. سړي يې له کاره غورځوي.

پاڼه ډېره خپه شوه. په کاکا حکمت يې ډېره زړه بد شو.

ورو يې پوښتنه وکړه: کاکا حکمت مې ښه کيږي؟

بابا: هو ان شاء الله د الله په رضا ښه کيږي خو د هوا ککړتيا ورته ښه نه ده او ځان بايد ترې وساتي. خو ستونزه دا ده چې ځنګه يې وساتي؟

دري واړه غلي وو. کور کې هم چا خبرې نه کولې او په سوچونو کې ډوب وو.

پاڼې وويل: د کاکا حکمت غونډې به ډېر نور خلک دا حال لري. او زه وينم چې له هر کور نه لوګي راپورته کيږي. دا به ډېره خلک تنفس کوي او ناروغه کيږي به.

بابا وويل: مور د دې ډېر ښه امکانات لرو چې داسې يوه بريښنا چې نه هوا ککړه کړي او نه هم ډېره ګران بيه وي توليد کړو. له بلې خوا ډېرو خلکو ته به بريښنا هم ورسيږي.

پاڼه ځای کې رانيغه شوه: هغه څنګه بابا جانه، او ولې تر اوسه مور داسې بريښنا نه لرو؟

بابا يې وخندل: اوس ويده شه لور مې، ناوخته ده سبا ښوونځي ته هم ځې. سبا به بيا درته ووايم چې څنګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼې هم ومنله. د بابا او مور مخ يې مچو کړ. غاښونه يې برس کړل. مخ او لاسونه يې پرېمنځل او خپل ځای کې د سترګو په رپ کې ويده شوه.

مور يې پاڼې ته کتل، بابا ته يې وويل: نن د وړانګې سره ډېره خپه شوه، ډېره خسته هم شوه ځکه داسې زر ويده شوه.

بابا: ملګرتيا بايد همداسې وي چې غم کې درسره شريک وي.

وړانګه څو ورځې ښوونځي ته را نه غله. پاڼه به هره ورځ د وړانګې کور ته ورتلله، د حکمت کاکا پوښتنه به يې کوله او هم به يې وړانګې ته له ښوونځي نه د کورنۍ دندې راوړلې چې له درسونو نه شاته پاتې نشي.

حکمت کاکا هم تر يو حده ښېرته مخ په ښه کېدو شو او وړانګه هم د پاڼې سره يوځای ښوونځي ته تګ راتګ پيل کړ. که څه هم حکمت کاکا ښېرته په پښو درېدلی شو، خو کار ته د تګ نه و. وړانګه خپل پلار ته ډېره ځورېده او درسونو ته به يې سم پام نشو کولی. پاڼه پوهېده چې د وړانګې ټول پام حکمت کاکا ته دی نو ځکه يې ډېره هڅه کوله چې خوشاله يې وساتي.

مازيګر پاڼه او وړانګه له ښوونځي نه د کور خوا ته رواني وي چې بابا جان سره مخ شوې. بابا يې هم کور خواته روان و. درې واړه سره يوځای شول.

بابا وويل: څنګه مو خوښه ده چې لږ قدم ووهو، په لاره کې به يو ايسکريم هم درته واخلم. دواړو د خوشالۍ نه نارې کړې، هووو ايسکريم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار کې وړانګې ووېل: کاکاجانه تاسې غوښتل چې د اقلیم ساتلو په اړه موږ ته نورې کیسې هم وکړی خو هغه زما د آغا جان ناروغۍ هر څه رانه هېر کړل. که خوښه مو وي او حوصله لرئ، زه غواړم چې نورمعلومات هم ولرم. له هغه وخته چې زما آغا جان لوګي ناروغه کړی هره شېبه یې په اړه سوچ کوم.

بابا جان د وړانګې په سر لاس راتېر کړ: لورکۍ ډېره اندېښنه مه کوه. الله (ج) ډېر لوی او مهربانه دی. شکر دی موږ او تاسې ایمان لرو، هر څه به سم شي. هو، خو زه به د اقلیم بدلون د مخنیوي په اړه یو څه ووایم.

موږ هر یو کولی شو چې د اقلیمي بدلون مخنیوي لپاره یو څه وکړو، که څه هم پرمختللي هېوادونه په دې کې ډېر رول لوبوي، خو بیا هم موږ باید له ځانه پیل وکړو. مخکې مو هم په دې اړه خبرې کړې وې چې موټرکې ډېر تلل، د تېلو او سکارو سوځول، له پلاستیک نه د سون د توکو په ډول ګټه پورته کول، د ځنګلونو وهل دا ټول په اقلیمي بدلون باندې منفي اغېز لري. موږ کولی شو چې د موټر پر ځای په پښو لاړ شو، له بایسکل نه کار واخلو چې دا کار زموږ روغتیا لپاره هم ډېره ګټه لري او که لرې ځای ته د تګ اړتیا وي نو بسونو کې لاړ شو. بل دا چې مېوه او ترکاري د نېږدې پټیو او باغونو نه واخلو. په دې ډول هم د پلاستیکي قوطي او بسته بندۍ نه مخنیوی کېږي او هم د ترانسپورت تیلو مصرف نه ډېره کېږي.

د پلاستیکي کڅوړې پر ځای د تیکه یې کڅوړې نه کار واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پوهېږو چې ځنګلونه د ځمکې سږي دي، که چېرې ځنګلونه ډېر ووهل شي د کاربن ډای اُکسایډ د جذب لپاره به کافي اندازه ونې نه وي، دا ګازونه اتموسفير ته پورته کيږي او هلته پاتې کيږي. د هرې وهل شوې ونې پر ځای بايد بله ونه کېنول شي.

د کور پاکولو لپاره موږ ډېر وخت د کيمياوي موادو نه استفاده کوو، موږ کولی شو چې په ډېره اسانه د لوښو مينځلو يا د کور پاکولو لپاره خپله مواد جوړ کړو، د مثال په توګه موږ د سرکې، د ليمو جوهر او سوډا ميکس څخه کولی شو د کور پاکولو لپاره مواد جوړ کړو که چېرې طبيعي صابون هم ورسره ګډ کړو نور نو هېڅ ډول کيمياوي موادو ته اړتيا نه پاتې کيږي. په دې ډول د پلاستيکي بوتلونو، د کيمياوي موادو د اوبو سره د ګډون مخنيوی کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمریزه (سولر) برېښنا

یوه بله مهمه برخه لمریزه (سولر) برېښنا ده، موږ ښه لمر لرو او کولی شو چې ښه گټه ترې واخلو خو له بده مرغه زموږ هېواد کې ډېره کمه پاملرنه ورته شوې.

دواړو په یو غږ سره وویل: لمریزه برېښنا څه وي؟

بابا وخندل: همدې پوښتنې ته زه په تمه وم. سولر انرژي یا فوتوولټیک د لمر انرژي په برېښنا بدلېدو ته وایي. فوتو د یوناني کلمې نه اخیستل شوی چې د رڼا معنی ورکوي او ولټه د مشهور ایټالوي فیزیک پوه له نوم نه اخیستل شوی. ښاغلي الېسندرو ولټه د مشهورو اختراع گانو نه یو د برېښنا کیمیاوي سرچینې ماشین جوړونه ده. نوموړی په ۱۷۴۵ زېږدیز کال کې ایټالیا کې زېږدلی او ۱۸۲۷ کې له دې نړۍ نه سترگې پټې کړې دي.

د دې لپاره چې برېښنا تر لاسه کړو موږ الکترونونو ته اړتیا لرو. الکترون وړې حجرې دي چې په سترگو نه لیدل کیږي. کله چې الکترون لکه اوبه په سیند کې چې بهیږي په بهېدو شي برېښنا تولیدوي. البته دوی په سیند کې نه بهیږي بلکې د برق سیمونو او پایو کې په حرکت وي. د دې لپاره چې برېښنا تر لاسه شي باید الکترون په بهېدو یا حرکت راولو. د دې لپاره موږ د لمریزې برېښنا تورو تختو ته اړتیا لرو. تاسې به د بامونو پر سر دا ډول تختو

(c) ketabton.com: The Digital Library




ته خامخا پام شوی وي. نه یوازې د بامونو پر سر بلکې د حساب په ماشینونو کې یا لاسي ځراغونو کې وړې تختې هم همدا د لمریزې برېښنا لپاره دي. د لمریزې برېښنا تختې له دوو برخو نه جوړې شوي دي. په دواړو برخو کې الکترونونه دي. په پاسنۍ برخه کې الکترون تر لاندې برخې ډېر دي. پاسنۍ برخه کې منفي الکترونونه دي او لاندنۍ کې مثبت، کټ مټ لکه یوه بټرۍ کې چې وي.

کله چې لمر د سولر(د لمریزې برېښنا) تختې پر مخ وځلېږي نو لاندني الکترونونه پاسنۍ برخې ته راخیږي. پاسنۍ برخه کې الکتروونونه ډېرېږي او ځای کمېږي نو باید یو څه نور الکتروونونه بېرته لاندنۍ برخې ته لاړ شي. په دې ډول یو حرکت یا جریان رامنځ ته کېږي، که موږ دا دوې برخې د یوه سیم په مرسته سره وصل کړو نو پاسني الکترون د دې سیم په مرسته بېرته راښکته کېږي چې په پایله کې د حرکت پیدا کېدو سره برېښنا تولیدېږي. د دې برېښنا ښېګڼه دا ده چې اقلیم ته هېڅ ډول تاوان نه رسوي. نه یوازې د لمر رڼا بلکې اوبه او باد هم موږ ته داسې برېښنا چې په اقلیم منفي اغېزې نلري راکولی شي. ښايي ځینې کتابونو کې مو د غتو بادپکو په څېر پایې چې ولاړې دي لیدلې وي.

دواړو سرونه وښورول: هو څه موده مخکې مو همداسې یو عکس په کتاب کې ولید.

(c) ketabton.com: The Digital Library






بابا: هغه بادي برېښنا تولیدوي. زما په خپلو سفرونو کې ورته پام و. اروپایي هېوادونه ښه ګټه ترې اخلي.

پاڼه: بابا جانه نو موږ خو باد او لمر دواړو لرو ولې ګټه نه ترې اخلو؟


بابا جان: هو زما نانځکې زه هم همدا هڅه کې یم چې په دې برخه کې یو څه پرمختګ وکړو. د ډېرو وګړو دې هر څه ته دومره پام نه وي او توجه هم نده ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې، خو زه خوشبینه یم او زړه مې وايي چې ډېر زر به همداسې دستګاوې جوړې شي او موږ به د برېښنا ستونزه نور نلرو.

درې واړو په یوه غږ امین وویل او د خپل کور په خوا روان شول.



پاڼه او وړانګه په ژورو سوچونو کې ډوبې وې. ښايي د سولر تختې به یې جوړولې او یا هم بادي ژرندې. بابا جان په زړه کې خوشاله و، پوهېده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library





نوی نسل به دېرې نوي مفکورې ولري او خپل ګران هېواد به د برېښنا، اوبه او ځنګلونو خاوند کړي، د پرمختګ لپاره به یې هڅې وکړي او هېڅ چا ته به اجازه ورنکړي چې زموږ ګډ کور ته زیان ورسوي.

**د یوه سوکاله او اباد افغانستان په هیله !**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**